نظرمحمد مطمئن

۲۰۱۳/۱۱/۱۴

# د زراعت وزارت او آیساف د پام وړ،

## د هلمند بیولوژیکې جګړه

امریکایي کارپوهان هر کال د هلمند ولایت کې د کوکنارو د کښت د موسم په وخت کې د الوتکو څخه د کروندګرو په کښتونو کې په بیولوژیکې وایروسونو (میکروبونو) لړل شوی د کوکنارو تخم له هوا څخه پاشي، د کروندګرو ټولي ځمکې همدغه په بیولوژیکې میکروب لړل شوي تخمونه پوښ کوي.

د ویالو پر غاړه، پر دښتې او اوبه لرونکو زراعتي ځمکو کې کوکنار پرته له دي چې کروند ګر پري وپوهیږي را شنه کیږي، او په هغو ځمکو کې چې کروندګر کوکنار کري، هلته تر نورو ځایونو همدغه امریکایي کوکنار ډیر شنه کیږي.

کروندګر چې په کوکنارو ډیر مصرف کوي، او بل بدیل کښت هم نه لري، نه دولت او نه هم نړیواله ټولنه د کروندګرو اصلي ستونزي ته پام کوي، هغوی پر دي نیت پر کښتونو زیات مصرف کوي او کیماوي سره ئی ورکوي ترڅو ښه حاصل ترلاسه او خپل قرضونه چې د کال په اوږدوکې یې کړي پرې خلاص کړي، او د اولادونو له پاره یوه اندازه غنم هم د کوکنارو څخه ترلاسه شوو پیسو په مقابل کې واخلي.

درې کلونه کیږي چې کله هم د بزګرو کوکنار هغه حالت ته ورسیږي چې نور یې د حاصل ټولولو وخت وي، وچ شي، او حاصل نه کوی، امریکایي کوکنار هم چې دهمدغو فصلونو په منځ کې شنه وي، چې کله هوا پرې ګرمه شي خپله هم وچ شي او د کروندګرو اصلي کوکنار هم وچ کلک کړي.

زه د کوکنارو د کښت پلوې نه کوم، ولي باید چې کروندګرو ته بدیله لاره وښودل شي، اوکه بدیله لار نه وي، نو بیا په لومړي وخت کې د کوکنارو د کښت مخنیوی ؤشي، نه داچې شپږ میاشتي کروندګرخواري وکاږي، ځانونه قرضداره کړي، او کله چې د کوکنارو د حاصل وخت شي، هغوی ته د افغان دولت او بهرنیانو له خوا سزا ورکول شي.

د کوکنارو ترڅنګ د امریکایې کارپوهانو له خوا په دوا وهل شوې د کوکنارو تخمونه چې په پراخه پېمانه د هلمند ولایت په نادعلي، ناوه، بست، لښکرګاه، مارجه، ګرمسیر، نهرسراج، موسی کلا، واشیر، نوزاد، کجکې، باغران او د ګرشک او نادعلي ترمنځ دښتونو کې پاشل کیږي، د هلمندي کروندګرو نور فصلونه او کښتونه یې هم متاثره کړي.

سږ کال د هلمند په یادو سیمو کې چې په ځینو سیموکې کروندګر کوکنار د امنیتي ستونزو او دولت لخوا د ګواښونو له امله نه کرې، دهغوی نور کښتونه هم وچ او حاصل نه ورکوي، کروندګر یې لاملونه همدغه د امریکا بیولوژیکې وایرسونه ګڼي چې د دوی نور حاصلات یې سخت متاثره کړي دي.

د لښکرګاه ښار ته نږدې سیمو کې چې هیڅ ډول د کوکنارو ښکاره او یا پټ کښت نه کیږي، بیا هم د امریکا او آیساف قوواو د الوتکو پر مټ په دغو سیمو کې پر دوا (بیولوژیکې میکروب) وهل شوي د کوکنارو تخمونه له هوا څخه پاشل کیږي، په زراعتي ځمکو، د ویالو پر غاړو او حتي ځینې ځایونه د سړکونو غاړو ته هم امریکایې کوکنار شنه کیږي، او وده کوي.

دغو امریکایې کوکنارو سږ کال د لښکر ګاه ښار ته نږدې او دا ډول د ناوي او بست سیمو هغه بزګر هم زیانمن کړل چې هغوی د خپلو اولادونو د نفقې له پاره ترکاري (سبزي) کرلې وه، ولي د هغوی د سبزیو ټول ډولونه بیولوژیکې وایرسونو متضرر کړل او سبزیو یې ښه حاصل ورنه کی، دا ډول په تورو بادنجانو او رومیانو کې یو ډول کوچنې سورې پیداکیدل چې چنجی به نه وو خو بادنجانې او رومیان د خوراک نه وو، او بازارکې کروندګرو ته د دوی سبزیجاتو پیسې نه جوړولې، چې ډیری کروند ګر اوسمهال قرضداره ځکه دي چې حاصلاتو یې هغه پیسې جوړې نه کړي کوم چې دوی پر ځمکو لګولي وي.

په ډیرو یادو ولسوالیو کې دا درې کلونه کیږي چې د لوبیا، ماش او دجوارو ښه فصلونه، نه کیدل، او بزګرو یې له کمو حاصلاتو څخه سر ټکاوو.

سږ کال د هلمندې بزګرو چې د کوکنارو بدیل کښت بلل کیږي پخته (کالکي) د امریکایې بیولوژیکې وایروس (د کوکنارو پر تخمونو وهل شوې مواد چې امریکایان یې په زراعتي ځمکو کې د هوا د لاري پاشي) له امله دومره زیانمن وو چې په ټوله کې یې حاصل په نښت حساب وو، د کالکو بوټو ښه زور کاوو، بوټي یې تر پخوا کلونو ډیر غټیدل، او بزګر خوشاله وو چې سږ کال به یې د پختې کښت حاصل ډیر ښه وي، خو چې کله یې د حاصل وخت رانږدې شو، د پختې ګلانو (کوکړیو) یو ډول توروالي پیداکي، سپینه پخته به توره شوه، او دا ډول د حاصل غوټۍ به یې اکثره وچې شوي.

په تیرو کلونو کې د یوجریب پختي حاصل له ۲ څخه تر درې خرواره کیدی، سږ کال نیم خراور او یا له هغه څخه کم حاصل یې ورکاوو.

په یو جریب ځمکه د هلمندي بزګرانو نږدې ۷۵۰۰ افغانۍ لګښت راځي، چې نوموړی لګښت بزګروته لاسته ورغلی حاصل نه شي پوره کولای.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د جوارو بوټي په لومړی سر کې ډيره ښه وده کوي، کله چې دحاصل وخت شي، دجوارو ټانټه (خپله جواری) یو ډول ړرسوب او توروالي پيداکي، چې د امريکا له خوا دبيولوژيکي وايروس له شندلو مخکي دغه ډول د جوارو مرض د کښت په حالت کې چا نه وو ليدلی.
دا ډول بزګر د سوزبر (ماش، لوبيا، سبزيو او هندوانود کښت وخت ) موسم ته ډير خوشاله وي، په نادعلي، مارجه، ناوه، نهرسراج او لښکرګاه کي کروند ګر ماش او لوبيا هم کري، سږ کال د ماشو حاصل هيڅ کوم بزګر هم نه دی ترلاسه کړی، که چيرته کوم چا اخستي وي هغه به استثنايي شکل وي، د بيولوژيکي وايروس څخه دغه کښتونه دومره متاثره شوی وو چې کروندګرو خپل د ماشو او لوبيا شنه فصلونه چې حاصل يي نه وو نيولی په مال لرونکو خلکو د ډيرو کمو پيسو په مقابل کې خرڅ کړل او هغوی خپل پسونه ورخوشي کړل، د بزګرو د لوبيا او ماشو شنه بوټي مالونو وخوړل.
دا ډول سږ کال د هلمند په ډيرو ولسواليو کي پسونو پراخ مرګ درلود، ځيني مالدار وايي چې کيدای شي د پسونو د مرګ لاملونه هم په يادو ولسواليو کې د شنو فصلونو خوراک وي، دغه بوټي چې د امريکايي کوکنارو د وايروس څخه زيانمن شوي وو مالونه يي هم زيانمن کړل او مرګ يي ورته واړاوو.
دا ډول ويل کيږي چې په يادو ولسواليو کي د کوچنيانو، ښځو او ځوانانو ته هم ډول ډول ناروغی ور پيښي وي، چې د هلمند خلک يي لاملونه په هلمند ولايت کي په ۲۰۰۱ کال او وروسته وختونو کي د بهرنيانو له خوا د ځينو کيمياوي او کوچنيو اټومي سرګولولو او دا ډول په ډير لږ انداز کي کيمياوي وسلو کارونه ګڼي.
سږ کال د نادعلي ولسوالي د شاول د دښت سيمي يو تن بزګر چې په ډيره زياته ځمکه يي کوکنار کښت کړي وو، او د خپل کښت دروزني له پاره يي ځلوبينت لکه پاکستانی کلداري قرض کړي وو، د خپل ټول کښت څخه دوه منه کوکنار يي ترلاسه کړل، کله چې يي خپل ټول کښت او کوکنار دلاسه ورکړل نو ځان يي د قرضونو له امله زندی کړ او خپل ځان يي وواژه، واړه ماشوم بچيان او ښځي يي بي سرپرسته پاتي شول.
په تيرو کلونو کي د پاکستان څخه دومره لوړه اندازه زراعتي تراکتوران هلمند ولايت ته روان وو چې له تصور څخه پورته خبره وه، ځکه هلمندي کروندګرو چې به د خپلو کښتونو حاصلات واخستل نو په ترلاسه شوو پيسو به يي تراکتور اخستل، دا ډول د ايران هيواد څخه څلورسلنډره قوي تراکتوران هم هلمند ولايت ته ډير زيات راتلل، په لښکرګاه او ځينو ولسواليو کي د تراکتورانو شورمونه ( دخرڅولو ځانګړي ځايونه) وو.
سږکال چې کروندګرو تاوان وکی او کښتونه يي د امريکايي کوکنارو (په وايروس لړل شوو تخمونو) له امله  حاصل ورنه کی، هغه پخواني اخستل شوي تراکتورونه د نورو ولايتونو پر خلکو په ارزانه بيه خرڅوي او د کال په اوږدو کي چې يي کوم قرضونه کړي وي هغه پرې اداء کوي.
که بهرنيان زموږ له عام ولس سره دښمني ونه لري نو کومه اړتيا ده چې په لښکرګاه او بست سيمو کي چې له څوکلونو راهيسي کوکنار نه دی کرل شوي، دوی بيولوژيکي وايروس پاشي او د کروندګرو د سبزيوکښتونه زيانمن کوي؟
که بهرنيان زموږ له عام و لس سره دښمني ونه لري نو کومه اړتيا ده چې د کوکنارو په نوم زموږ د بزګرو د پختي او جوارو کښتونه د بيولوژيکي ميکروب پواسطه زيانمن کوي او کروند ګر مو له اقتصادي ستونزو سره مخ کوي.
دا چې د هلمند ولايت اوسيدونکي په ټوله کې د هلمند له ځمکو څخه ترلاسه شوي غنم اوړه کوي او بيا همدغه اوړه د ډوډی له پاره کاروي (د غنمو کښتونه تراوسه حاصل کوي او دامريکايي پوهانو له خوا په وايروس لړل شوي د کوکنارو تخم څخه په ښکاره متاثره نه ښکاري)، حتمي ده چې د بيولوژيکي وايروس تاثير به خامخا پرې وي، کله چې خلک دغه غنم د خوراک له پاره کاروي ويره شته چې په راتلونکي کي به هلمندي کروندګر د ډول ډول ناروغيو انتظار باسي، لکه چې سږ کال يي ځيني نښي نښاني وليدل شوې.
د زراعت وزارت او په ټوله کي افغان دولت د ځينو نورو لاسته راوړنو ترڅنګ په نړيوالو او کورنيو کنفرانسونو او مطبوعاتي غونډو کي د زراعت د پرمختګ او اصلاح څخه يادونه کوي، په پرله پسي ډول وايي چې په دې برخه کي يي ډير پرمختګ کړي، زراعتي تخمونه يي کروندګرو ته په وړيا ډول ويشلي، کيماوي سره يي بزګروته وړيا ورکړي، او د وچو ميو او لندو ميو په برخه کي د هيواد څخه د ميوو صادرات ډير شوي.
هر کال د زراعت وزارت اعلان کوي چې د افغان بزګرو د کښتونو په حاصلاتو کي د پام وړ زياتوالی راغلی، او ډيرځله په شمال کي دغنمو يادونه کوي.
بيا هم هر څه په کابل کي، د زراعت وزارت کابل کي، د زراعت وزارت ويندويان په کابل کي، او خپله وزير صاحب يي له کابله مطبوعاتو ته د نورو له خولي خبره کوي، کاش چې د کرهني وزير يو ځل زموږ د مظلومو او بيچاره کروندګرو احوال پوښتلی وای، سمه ده چې وزير صاحب شمال ته ولاړی او هلته يي په باميان او ځينو نورو ولايتونو کي د کچالو فصلونه ښه وکتل، خو هلمند چې د هيواد د غنمو کندو (ذخيره) او د زراعت په برخه کي له ډير پخوا څخه نو م لري، هيڅا يي د کروندګرو څخه د هغوی د ستونزو پوښتنه ونه کړه.
هيواد مو له بيلابيلو بدبختيو سره مخ دی، زموږ په هيواد کي د نړی سترو قدرتونو ډول ډول وسلي وکارولي، د افغان – انګريز جګړو کي انګيزانو خپلي د هغه وخت موډرني وسلي او دا ډول روسانو زموږ پر کليو او بانډو د هغه وخت پرمختللي وسلي او حتی په ځينو ځانګړو وختونو کي يي کيمياوي وسلي ډيرې لږ وکارولي.

---




افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

د امریکا او دهغوی د متحدینو له خوا چي کله پر افغانستان یرغل وشو، هغوی هم د هیواد په بېلابېلو سېمو کي د ډول ډول زروي وسلو تر څنگ کمیاوي وسلي وکارولي او دا ډول ویل کیږي چي وړې اټومي سرگولولي یې هم په توره بوره او ځینو نورو سېمو کې استعمال کړي دي.
د افغان وینه امریکا او نړیوالو یرغلگرو ته تر هرڅه ارزانه ده، افغان ته نړیوال قدرتونه او په ځانگړي ډول اوس وخت کي امریکا د نورو انسانانو په ډول د ژوند کولو حق نه ورکوي، او غواړي چي دغه د دربېمي نړۍ انسان له ټولو طبیعي حقونو څخه محروم کړي.
د هلمند ولایت کي نږدې درې کلونه کیږي چي امریکا او نړیوال بیولوژیکي وسلي کاروي، زما هدف له بیولوژیکي وسلو څخه دا دی چي افغان کروندگر هم امریکا په ارامه پرېنښودل، دهغوی سره یې هم ښکاره او پټ جنگ پیل کړي.
سمه ده چي امریکا او نړیوال بهرني پوځونه د تروریزم د له منځ وړلو دعوه کوي، هغه تروریزم چي تر اوسه یې نه امریکا او نه هم د نړۍ کوم بل هیواد اویا فیلسوف ښکاره او څرگند تعریف وړاندې کولای شي، امریکا هر هغه روا او ناروا شي ته تروریزم وایي چي د دوی پکي زیان او د نورو گټه وي، او هر هغه شي ته رواه وایي چي د دوی په کي گټه او د نورو پکي تاوان وي.
هلمند ولایت د نړۍ په سطحه یو له هغو ولایتونو څخه دی چي کوکنار پکي زیات کښت کیږي، او همدغو کوکنار دي چي هلمند یې د اور په تنور بدل کړی، اصل کي نه امریکا، نه اروپا او نه هم ملگري ملتونه د زړه له کومي غواړی چي کوکنار دي په یو مخیز ډول په هلمند ولایت کي بند شي، که دوی غوښتلای نو بېلابېلي لارې اوبدیل زراعتي پروگرامونه شته چي د کوکنارو د کښت ځای ونیسي.
انگریزان او امریکان په خپلو ځانگړو مجلسونو کي وایي چي پرته له توپیر څخه هر افغان زموږ دښمن دی، دغه ځیني دولتي کسان چي راسره مل دي، هغوی هم د ډالرو زور دی، که پیسي پري ودروو، پر دوی هم اعتماد په کار نه دي، په ځانگړې ډول په لیرې پرتو سېمو او کلیوالو سېموکي اوسېدونکي افغانان زموږ سرسخت دښمنان دي.
امریکایان او یرغلگر پوځونه له همدې زاویې هرڅه ته گوري، ځکه خو یې په زنگاوات کي په نیمه شپه کي ۱۶ماشومان او ښځي شهیدان کړل، په کلیوالو سیمو یې بمباردونه وکړل.
د زراعت وزارت، امریکا او آیساف د هلمند ولایت د کروندگرو سره داسي جگړه پیل کړي چي په کور او کلي کي یې هغوی ټول په اصل کي مړه کړي او یواځي کالبوت یې پاتي دی.
هغه کروندگر چي ټول کال زحمت باسي، او د خپلو کښتونو د حاصلاتو په تمه ورځ او شپه سبا کوي، تر څو دهمدې لارې د خپلو بچیانو له پاره روزي په لاس راوړي، د خپل کښت او کال پای ته رسیدو څخه مخکي یې پر کور او اولاد د غم، ویر او ماتم څپې خپرې شي.
په دې تمه چي د هیواد دکرهنی وزارت د کروندگرو دغې حیاتي ستونزې ته جدي پاملرنه وکړي، او نړیوالو قوانیونو په رڼا کي امریکا او آیساف دې ته اړ کړي چي هلمندې بزگرو ته د تیر کال د کښتونو د له منځه تلو تاوان ومنی، او دا ډول دهغو مالونو (پسونو) تاوان هم مالدارو ته ورکول شي چي په روان کال کي لوبیا او ماشو د بوټو د خوراک له امله مړه شوي دي.
امید دی چي د کرهني او مالداري په برخه کي د ملگرو ملتونو اړوند ځانگه، نړیوالي اداري، د افغانستان د زراعت وزارت او افغان کار پوهان په دې اړه پلټنه او څېړنه وکړي او بې پرې راپور چمتو، افغان ولس او نړیوالو ته یې وړاندې کړي.
پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ